مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: جيفري رابرټس
مترجم: عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۰۹/۱۴

# د ايزنهاور حکومت، افغانستان او اتحادونه

## ديارلسم فصل

### دويمه برخه

په دې کې شک نسته چې افغانستان خپلې داخلي ستونزي لرلې. د موادو له کمبود سره مخامخ وو، قومي شخړي يې لرلې او د قبايلو بنورښونو حکومت ته مشکلات پيښول. پوځ يې نه کافي وسلې او مهمات لرل او نه يې سم انضباط لاره او اقتصاد يې هر وخت په وروسته پاته حالت کې وو؛ مګر افغانستان اوس هم، د پاکستان په مقايسه، ډېر لږ داخلي بحرانونه درلودل؛ او علت يې دا وو چې يو خو يې ډېره سيمه ايزه خودمختاري درلوده او بل داچې د خلکو د ژوند په سطح کې يې توپير دونه زيات نه وو. تر دې چې را تېر سو نو له عراق، ايران او پاکستان سره چې هر څومره مرستي وسوې نو پرته له دې چې، په وروسته کې يې د شوروي اتحاد د پوځي پرمختګونو په مقابل کې ډېر لږ مقاومت وکړ بله هيڅ ګټه يې ونه رسوله. خو پر افغانستان باندي چا حساب قدر لا نه وو کړی.
د امريکا ټولو متحدينو افغانستان ته د ستونزو جوړوونکي او بې ارزښته هيواد په سترګه نه کتل. په واشنګټن کې د ترکيې سفير ويل چې د ده هيواد په دې عقيده دی چې افغانستان، د جغرافيايي موقعيت له مخې، د منځني ختيځ د امنيت لپاره ډېر مهم دی او د پکټ پر غړو باندي يې ږغ وکړ چې کوښښ وکړي افغانستان ته غړيتوب ورکړي. ده وويل چې په پکټ کې غړيتوب به له هغه هيواد سره اړيکي دوستانه کړي او له داسي ناڅاپي او تلواري فيصلو او اعمالو څخه به يې را وګرځوي چې د روسيې مقاماتو ته د پراختيا غوښتني پلمه جوړه کړي. د ترکيې سفير دا منله چې په پکټ کې د افغانستان شاملېدل ښايي د روسيې عکس العمل را وپاروي مګر ده وويل چې دا احتمال ډېر کم دی. د ترکيې سفير وويل چې د پښتونستان مسله د يوه دريم ګړي له لاري حلېدلای سي.
په داسي حال کي چې خارجه وزارت د ترکيې د سفير د نظر ستاينه وکړه او ادعا يې وکړه چې د افغانستان په ستراتيژيکه ستونزه پوهيږي مګر بيا يې هم خپله هغه پالیسي بدله نه کړه چې ويل يې افغانستان د شوروي د حملې تر تهديد لاندي دي او چنداني ارزښت هم نه لري. په دې برخه کي بيا هم سوال موجود وو چې که چيري افغانستان ته پوځي مرستي ورکولي کيږي نو په دونه مشکلاتو او د خطرونو په منلو ارزي کنه. که څه هم چې د امريکا مقاماتو نه غوښتل چې افغانستان ته بيخي شا واړوي او هغه هيواد ته يې د غنمو له ورکولو او د هيلمند د پروژې لپاره پر دوهم پور باندي غور کاوه؛ دوی بيا هم احتياط کاوه چې هسې نه افغانستان ته د پوځي مرستو تمه وړپيدا سي. د خارجه وزير کفيل جوزف سميت وويل: « که ترکيه له افغانستان سره د داسي يوه تړون پيشنهاد کوي لکه له پاکستان سره چې يې لاسليک کړی دی؛ دا به د متحده ايالاتو لپاره يو مشکل جوړ کړي ځکه چې موږ غواړو د ترکيې او پاکستان له تړون څخه د پاکستان لپاره د پوځي مرستو د يوه چوکاټ په حيث استفاده وکړو. نو ځکه زه فکر کوم چې که ترکيه له افغانستان سره تړون کوي نو کوم بل ډول تړون دي ورسره لاسليک کړي.
نورو امريکايي مقاماتو ويل چې افغانستان ته د پوځي مرستو لپاره د کانګرئيس منظوري ډېر زيات وخت نيسي. دوی ويل چې د بودجې کموالی به د هغه هيواد لپاره د منظوری اخيستل مشکل کړي او افغانستان ته چې هر څونه مرسته ورکړه سي د هغه هيواد بشپړ امنيت نه سي خوندي کولای. که څه هم چې د امريکا حکومت د افغانستان دوستي او طرفداري نه ردوله او ويل يې چې کېدلای سي له هغه هيواد سره يو ډول انتقالي او موقتي موافقتنامه هم لاسليک سي مګر ويل يې دا به بهتره وي چې افغانستان تر هغه وخته منتظر سي چې دا پکټ يو ځل قوي سي؛ بيا به ورشامل کړه سي. که څه هم چې ترکيې هيله څرګندوله چې امريکا به افغانستان ته يو څه مرستي ولېږي مګر پر دې خبري يې ډېر زور وانه چاوه.
که څه هم چې د افغانستان مقامات له پاکستان سره د امريکا د مرستو د پروګرام له پيل کېدلو څخه وروسته له امريکا څخه ماءيوس سول مګر د ۱۹۵۴ او ۱۹۵۵ کلونو په اوږدو کې يې بيا هم د امريکا څخه د پوځي مرستو غوښتني ته دوام ورکړ او په سيمه ايز پکټ کې شاملېدلو ته يې هيڅ اشاره نه کوله. کبير لودين ويله چې د ده هيواد د شوروي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

اتحاد خطر مني او پوازي سپکو وسلو او مهماتو ته ضرورت لري. ده ويل کېدای سي چي دا پوځي مرستي د ترکيي له لاري وسي او د پاکستان او شوروي د مخالفت مخه ونيوله سي. څو ورځي وروسته خارجه وزير سردار نعيم بيا وويل چي افغانستان وسلو او د صاحب منصبانو پوځي روزني ته اړتيا لري او استدلال يي کاوه چي د افغانستان سلامتي د ټولي نيمي قارې سلامتي ده. د اکتوبر په مياشت کي په کابل کي د امريکا سفارت پيشنهاد وکړ چي له افغانستان سره دي د پاکستان له لاري پوځي مرستي وسي او په دې توګه به د پښتونستان مسله هم حل سي.
د هغه کال د ډسمبر په مياشت کي خارجه وزير ډلس د افغانستان سفير کبيرلودين ته اطلاع ورکړه چي افغانستان بايد له امريکا څخه د وسلو د ترلاسه کولو تمه ونه کړي؛ ځکه چي دا داسي ستونزي را پيدا کوي چي بيا يي جبران مشکل دی. خارجه وزارت د افغانستان سفارت ته وليکل چي وسلي به هغه وخت ورکړي چي افغانستان له پاکستان او ايران سره خپل اختلافات حل کړي مګر له امريکا څخه به د منځګړتوب هيله نه کوي او دا يي هم ورته ليکلي وه چي په ټرون کي به د غړيتوب خيال له سره باسي. ډلس هغه وخت د افغانستان قهر را وپاراوه چي له افغانستان سره د مذاکراتو نقل يي پاکستان ته وسپاره.
د ايزنهاور حکومت، په عين وخت کی، له افغانستان سره د اقتصادي مرستو د زياتولو پيشنهادونه رد کړل. د افغانستان حکومت له لوېديځو هيوادونو څخه د هغو لړو اقتصادي مرستو له امله شکايت وکړ چي له متحده ايالاتو سره په پکټ کي د هغه د ګاونډيانو له شامليدلو څخه ډېر مخکي يي ترلاسه کړي وې. افغانانو هغه وخت ډېر سپکاوی احساس کړ چي امريکايانو د خپلو پورونو له بيرته تاديه کېدلو سره دونه سخت شرايط وضع کړي وه چي حتی وروسته امريکايي مقاماتو هم وويل چي د دي پورونو د تاديه کولو په شرايطو کي تر حد تېری سوی دی. تر ۱۹۵۴ کال پوري اکثرو امريکايي او افغاني مقاماتو دا ومنله چي د هيلمند په پروژه کي ډيري زياتي پيسي لګېدلي دي او چنداني ګټه نه ده ورڅخه تر لاسه سوې. په داسي حال کي چي پروژه د مرګ او ژوند ترمنځ وه، د صاداراتو وارداتو بانک، د جون پر يوويشتمه د افغانستان له حکومت سره يو نوی قرارداد وکړ. دا پور د افغانستان د مقاماتو د غوښتني نيمايی وو؛ سود يي په سلو کي ځلورنيم وو او په اته لس کاله کي بايد ادا سوی وای، چي په دې اته لس کاله کی يي ځلور کاله اضافه مهلت ورکړی وو. د دې پور د شرايطو هيڅ برخه د افغانستان د حکومت له خوښي سره برابره نه وه. څرنګه چي افغانستان هيڅ وخت د خپلو پورونو ادا کول تر خپل وخت ځنډولي نه وه نو د امريکا دغه شرايط يي خپل حيثيت ته سپکاوی وباله او په دې عقيده سول چي امريکا افغانستان ته هيڅ اهميت نه ورکوي. خو کله چي افغانانو پر دې مرستو باندي انتقاد وکړ او د هيلمند د پروژې د کار له طرز څخه يي شکايت وکړ نو امريکايانو هغوی په بې صبري تورن کړل او ورته وې ويل چي افغانان د عصري دفترداری په کار نه پوهيږي.
د همدغه جون په مياشت کي د جنوبي اسيا د څانګي د اقتصادي چارو مسوول د افغانستان د اقتصاد په باب رپوټ بشپړ کړ او دا يي ومنله چي د افغانستان حکومت له امريکا څخه د مرستو په برخه کي د خپلي ونډي په باب د ناراضيتوب حق لري. ده وويل چي افغانستان ته بايد په بهترو شرايطو پور ورکړه سي او دا به له پاکستان سره د اړيکو ښه کولو ته د تشويق وسيله سي. ده وويل د امريکا د ملي امنيت شورا په سيمه کي د خپلو اقتصادي او پوځي ګټو په باره کي غور کوي او په دې باره کي فکرکوي چي له افغانستان سره تعهدات کم او که زيات کړي، خو دی فکر کوي چي افغانستان به له شوروي څخه د مرستو ترلاسه کولو ته مخه کړي.
د ۱۹۵۴ کال د ډسمبر پر نهمه د ملي امنيت شورا پر هغو پلانونو باندي بحث وکړ چي له افغانستان سره اقتصادي مرستي په کال کي تر دېرش ميليونو ډالرو پوري زياتي کړي. د جمهورييس مرستيال ريچرډ نيکسن، چي د افغانانو مېلمه پالني ښه اغېزه ورباندي کړې وه، فکر کاوه چي له افغانانو سره د اقتصادي مرستو زياتوالی ښايي ډيري ګټي ولري. جمهوررئيس په لومړي سر کي د دې پلان ملاتړ وکړ او وې ويل چي که افغانان په ريښتيا هم د لوېديځ پر خوا وي او مطلب يي دا نه وي چي، د خپلو ګټو لپاره، د متحده ايالاتو سره د شوروي اتحاد له اختلاف څخه استفاده وکړي؛ نو موږ ښايي له هغه هيواد سره د مرستو د زياتولو خطر پر ځان ومنو.
خارجه وزير ډلس د دې پلان ملاتړ ونه کړ. د ده ورور الن ډلس، چي د سي آی ای رئيس وو، د مرستو زياتوالی، د احتياط په قيد، ومانه. ده ويل چي افغانستان ته دغه مرستي بايد د يوه دريم ګړي هيواد يا يوه مستقل سازمان له خوا ورکړه سي؛ ځکه چي شوروي اتحاد افغانستان په هغه سترګه ګوري لکه متحده ايالات چي ګواتيمالا ته ګوري (متحده ايالاتو تازه د ګواتيمالا حکومت پرزولی وو.) ده وروسته افغانستان په دې وغانده چي تازه يي کمونيست چين په رسميت پېژندلی دی، او له پاکستان سره يي موجودو اړيکو ته اهميت نه دی ورکړی او چين ته يي په ۱۹۵۰ کال کي د ډيپلوماتيکو هياتونو د تبادله کولو پيشنهاد کړی دی او چين، پنځه کاله وروسته، جواب ورکړی دی. کله چي د ډلس ورور په افغانستان کي د شوروي مداخلي ته اشاره وکړه او دا يي ورسره زياته کړه چي افغانستان د باور وړ هيواد نه دی نو د ملي امنيت شورا هم فيصله وکړه چي له افغانستان ته د مرستو زياتوالی به هسي د شوروي اتحاد ولمسوي او د پاکستان او افغانستان ترمنځ اختلاف حلېدلو ته به چنداني ګټه ونه کړي. د افغانستان سفير کبير لودين ته اطلاع ورکړه سوه چي هيڅ مرستي نه سي ورسره کېدلای او په افغانستان کي د امريکا سفارت ته هدايت ورکړه سو چي د هغه هيواد مقاماتو ته هم خبر ورکړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

کله چې سرې د ایزنهاور د حکومت د دفاعي پالیسی ضمني اشارې په نظر کي ونیسي؛ نو که خارجه وزیر د شوروي اتحاد او غربي ترون ترمنځ د افغانستان په دریځ سم پوهېدلای ښایی د مرستو پر پروګرام باندي غور سوی وای. خو ډلس د افغانستان په برخه کي بدبین وو. هغه د نړۍ په سیاست کي د یو بام او دوه هوا پالیسي درلوده. افغانستان له پاکستان سره اختلافات درلودل او کله کله یې د شوروي اتحاد د راضي ساتلو لپاره هم یو عمل کاوه؛ نو ده فکر کاوه چې افغانستان د غرب لپاره نه یو ټینګ مورچل او نه ارزښتمن ملاتړ کېدلای سي. که څه هم چې د افغانستان ازادي په نړي تار پیوند وه او د شوروي د راضي ساتلو او لمسولو د مخنیوي ترمنځ یې په هوا کي پر تناو باندي ګامونه اخیستل؛ خو ډلس په دغه حال کي زیاتره د پاکستان د نظریاتو تر اغېزې لاندي وو. که ده د ۱۹۵۳ کال د مې او جون په میاشتو کي، څو هیوادونو ته د سفر په لړ کي، افغانستان هم په خپل لیست کي شامل کړی وای نو ښایي بد بیني یې یو څه کمه سوې وای. خو دی کابل ته نه ولاړی او پاکستان ته په سفر کولو سره یې د هغه هیواد په برخه کي د امریکا یو اړخیزه علاقه وښودله او د افغانستان بدبیني یې نوره هم زیاته کړه او د افغانستان حکومت داسي وانګېرله چې هغه هیواد د امریکا په پالیسي کي هیڅ اهمیت نه لري.
د افغانستان په برخه کي د امریکا د دې منفي نظر یو څه پړه پخپله پر افغانستان باندي هم اچوله کېدلا سي. دوی خپله هغه عنعنوي پالیسي، چې د حکومت اسرار یې ټول پټ ساتل، نه پرېښودله او د هغه هیواد په برخه کي یې اطلاعات محدود کړي وه. حتی سره له هغه چې محدودیتونه لیري سول هم دوی ونه سو کړای چې داسي موسسې جوړې کړي چې په متحده ایالاتو کي د دوی د ګټو لپاره کار وکړي. څرنګه چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کي په افغانستان کي د مسیحیت تبلیغ منع وو او اقتصادي تماسونه ډېر محدود وه نو داسي امریکایان چنداني موجود نه ول چې د هغه هیواد په برخه کي یې له نیژدې معلومات درلودل. څرنګه چې افغانستان، په خپلو تعلیمي پروګرامونو کي، پر جرمني او فرانسه باندي تکیه کړې وه نو د هغه هیواد ډېر لږ کسان په انګلیسي ژبه پوهېدل، او په هماغه اندازه د امریکا له کلتور او سیاست څخه بېخیره پاته سوي ول. دغو علتونو افغانستان ته، په تېره بیا د پاکستان په تناسب، تاوان ورساوه. په مقابل کي پاکستان، د مسلم لیګ د تحریکاتو له کلونو څخه، دا چل زده کړی وو چې څرنګه په انګلیسي ژبو خلکو کي نفوذ وکړي.
افغانستان د هغو برتانوي متخصصینو چې په یوه آواز یې د پاکستان ستاینې او ملاتړ کاوه هیڅ ملاتړ تر لاسه نه کړ. سراولف کېرو د افغانستان په باب چنداني مثبتي خبري نه درلودې. ده ویل چې د هند پټانان د افغانستان له افغانانو سره ډېر ژور توپیر لري او افغانستان یې بیخي د پښتنو دولت نه باله. ده ولیکل چې د پښتونستان داعیه د مځکي او خاوري له دعوې څخه را ولاړه سوې ده، چې د برتانیې د واکمنی په وخت کي خاموشه وه. کېرو، که څه هم چې دا منله چې په اتحادونو کي د افغانستان شاملېدل هغه هیواد ته ګټه لري خو ده د سعد آباد پکټ سیوری غوندي یو شی باله چې د اداري سستم او طرز یې چاته چنداني ګټه نه سي رسولای. ده ویل چې د افغانستان زراعتي تولیدات ډېر لږ دي، د عصري حمل و نقل وسایل نه لري او پوځ یې دونه کمزوری دی چې پخپله هغه هیوا ته یې ګټه نه رسیږي. حتی سرویلیم بارټن، چې د افغانستان د داعیې ډېر ټینګ طرفدار وو، په ۱۹۵۳ کال کي، د پښتونستان مسله رد کړه او وې ویل چې دا یوه بې اساسه دعوه ده. ده ویل چې افغانستان باید له پاکستان سره روغه جوړه وکړي ځکه چې یوازي د پاکستان د ملاتړ له لاري د شوروي اتحاد له یرغل سره مقابله کولای سي. ده ویل چې که دا نه وي نو افغانستان پوځي طاقت نه لري او که د شمال او لوېدیځ له لوري حمله ورباندي وسي نو ډېر ژر به سقوط وکړي.
د افغانستان طالع ځکه ډېره خرابه وه چې له ۱۹۵۲ کال څخه تر ۱۹۵۶ پوري، په هغه هیواد کي د امریکا سفیر انګوس وارډ وو. پاکستان د متحده ایالاتو سره په اتحاد کي د شاملېدلو لپاره د نفوذ له یوشمېر څښتنو مقاماتو څخه ګټه اخیستې وه. وارډ یو له هغو کسانو څخه وو چې سخت د پاکستان طرفدار وو. وارډ یو څه وخت د ماوزې تونګ په زندان کي تېر کړی وو او کله چې له بندیخانې څخه را ووت نو د کمونیستانو ډېر سخت دښمن ورڅخه جوړ سوی وو. دی هم د پاکستاني مقاماتو د تبلیغ تر اغېزې لاندي راغلی او هم یې د افغاني ناراضیانو خبري اورېدلي وې او داوود خان ته یې د یوه کمونیسټ په سترګه کتل. ده د سي آی اې له رییس سره، چې لیون پولادا وایي تمامه ورځ به د شرابو په نشه کي ډوب وو، تل به توپنچه په ځړېدله او یو تش ماجراغوښتونکی وو چې ځان یې د افغانستان لارنس باله، لاس یو کړی وو او د داوود خان نسکورولو ته یې ملا تړلې وه. د دوی په فعالیتونو ظاهراً واشنګټن خبر نه وو او نه دوی له واشنګټن څخه اجازه اخیستې وه.
وارډ، د خپل سفارت په دوران کي، د امریکا او افغانستان د نیژدې کولو لپاره هیڅ کار ونه کړ. که څه هم چې د خارجه وزارت مخکنیو رپوټونو په افغانستان کي د کمونیسټ ګوند د وجود په باب هیڅ نه وه ویلي او لا یې په افغانستان کي د کمونیستانو د طرفدارانو شمېر کم او بې ارزښته بللی وو خو وارډ سره له دغه رپوټ ورکړ چې د افغانستان په هر ځای کي کمونیستان فعالیت کوي خو دوی ټول پټ دي او سفارت د هغوی په باره کي معلومات نه لري. ده د دې لپاره هیڅ دلیل نه درلود چې ولي باید، د یوه هیواد د عملي وضعیت په باره کي، داسي ضد او نقیض رپوټ ورکړي. وارډ د پاکستان د تبلیغاتو تر اغېزې لاندي وو او افغانستان یې له دې کبله غانده چې د کراچې د حکومت پر ضد ډېر سخت تبلیغ کوي چې په غیر کمونیستي نړۍ کي بل هیڅ هیواد داسي پروپاګنډه نه کوي. کله چې افغانستان د شوروي د تهدید په باره کي رپوټ ورکړ وارډ د هغوی رپوټ رد کړ او ویل یې چې افغانستان غواړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې توګه د امريکا څخه مرستي ترلاسه کړي او په افغانستان کي يې د خوراکي موادو کموالی د قاچاقبرانو له لاسه باله. که چيري وارډ، د افغانستان په باره کی مثبت نظر ورکړی وای، نو ښايي خوش اخلاقه ډلس يې هم په دې قانع کړی وای چې هغه هيواد د لوېديځو هيوادونو د اتحاد په ليست کي شامل کړي. خو ده خپل ټول وس د دې لپاره تمام کړ چې په واشنګټن کي څوک د افغانستان ږغ وانه وري.
سره له هغه چې افغانستان د وسلو د ترلاسه کولو لپاره خپله هيله څرګنده کړې وه خو وارډ فکر نه کاوه چې افغانستان به له لوېديځ سره په اتحاد کي د شاملېدلو خطر قبول کړي او سره له هغه چې دی پوهېدی چې داوود خان به له لوېديځ اتحاد سره د پاکستان په شاملېدلو سخت خپه سي خو ده فکر کاوه چې امريکا بايد د افغانستان په خپګان کي ری ونه وهي او ويل يې چې متحده ايالات بايد د اتحاد کارونه مخ ته يوسي او د افغانستان په اعتراضونو فکر خراب نه کړي.
حقيقت دا دی چې ټولو هغو امريکايانو چې د پکټ په جوړولو کي يې برخه درلوده په دې عقيده وه چې افغانستان له نظره غورځول کېدلای سي او پر دې خبري يې موافقه درلوده چې افغانستان بايد داسي احساس ونه کړي چې متحده ايالات د لوېديځ په اتحاد کي د هغه هيواد د شاملولو طرفدار دی. کله چې د امريکا حکومت، له پاکستان سره د اتحاد جوړولو په موضوع کي، د هند د دريځ د نرمولو کوښښ وکړ نو له افغانستان سره يې بيخي مشوره قدر ونه کړه. د امريکا حکومت داسي فکر کاوه چې که، د اتحاد په موضوع کي، افغانستان له نظره وغورځوي نو روسيه به هم د دوی په څېر سلوک وکړي. دوی فکر کاوه چې شوروي به په افغانستان کي د فعال کېدلو لپاره چنداني دلايل ونه لري او پر افغانستان باندي د شوروي د مستقيمي حملې احتمال خو لا نورهم ليري ښکارېدی ځکه چې افغانستان چنداني ستراتيژيکي ګټې نه درلودلې او لا يې اقتصادي او سياسي تاوانونه هم درلودل. حتی ځينو امريکايي مقاماتو خو لا فکر کاوه چې پرېږده شوروي اتحاد پر افغانستان باندي يرغل وکړي او د دوی دا عمل به د هغوی په مقابل کي اسلامي هيوادونه ورته يو موټی کړي او بېطرفه اسيايی هيوادونه به د غرب خواته راواړوي.
د افغانستان مشرانو هم د شوروي د حملې احتمال نه ليدی او هيله يې درلوده چې د نړی افکار او د افغانستان بې ارزښته حالت به شوروي اتحاد له حملې کولو څخه را وګرځوي؛ مګر بيا يې هم له روسيې څخه د وسلو د رانيولو هڅه وکړه او فکر يې کاوه چې دا کار به نور هم د شوروي د حملې مانع سي او په هيواد کي به اصلاحاتو ته لاره پرانيستل سي. دوی دا منله چې شوروي اتحاد به د افغانستان له دغي مرستي سره د شمالي افغانستان پر لور حرکت وکړي مګر دا يې ويل چې که شوروي حمله کوله نو په اتحاد کي د افغانستان په شاملېدلو او له چا څخه د وسلو په اخيستلو کي هم ری نه وهي.
د امريکا غير فعالي پاليسی او له پاکستان او په وروسته کي له ايران سره ډېرو زياتو مرستو افغانستان په اقتصادي او سياسي خلا کي پرېښود او د افغانستان مشرانو ته څرګنده سوه چې متحده ايالات، د افغانستان د ګاونډيانو په تناسب، له هغه هيواد سره د تعصب څخه کار اخلي. داوود خان نه سوای کولای چې د ايران او پاکستان عصري کېدلو ته لاس تر زني کښيني. که څه هم چې ده خبرداری ورکړ چې که لوېديځ هيوادونه افغانستان، په داسي حال کي چې د پښتونستان بحران هم نه دی حل سوی، يوازي پرېږدي نو افغانستان به له شوروي اتحاد سره يوه حل ته ورسيږي؛ خو امريکا دې تهديدونو ته هسي د لاپو په سترګه وکتل. خارجه وزير ډلس فکر کاوه چې دا به ډېره ګرانه وي چې افغانستان به د خپل استقلال دوستی او په هغه سيمه کي د شوروي اتحاد د يرغلونو د ليدلو سره سره بيا هم، يوازي له يوه دوست او مسلمان هيواد سره د اختلاف لرلو له امله ، دې سياسي ځان وژني ته حاضر سي.
افغانستان د وخته لا له شوروي اتحاد څخه د اقتصادي مرستو ترلاسه کول پيل کړي وه. د ۱۹۵۰ کلونو د اقتصادي محاصرې په وخت کي، افغانستان له شوروي اتحاد سره د جنس په جنس تجارت څلور کلن تړون لاسليک کړی وو او دا د ۱۹۳۰ کال راهيسي دغه راز لومړنی موافقه وه. شوروي اتحاد موافقه وکړه چې افغانستان ته به تېل، بوره، ټوکران، ماشين آلات او ټرانسپورټي سامانونه صادروي او په عوض کي به له افغانستان څخه پنبه، قېمتي ډبرې، پوستکي، مېوې، بادام، پسته او نور واردوي. په ۱۹۵۴ کال کي داوود خان، په افغانستان کي د شوروي اتحاد له خوا د وړو اقتصادي پروژو د بشپړولو پېشنهاد منظور کړ. لومړنۍ پروژه د جنوري په مياشت کي پيل سوه او افغانستان ته يې دوه د شلو زرو ټنو په ظرفيت، د غلو دانو د پورته کولو، ماشينونه، د اوړو ژرنده او د هغه څنګ ته د ډوډې پخولو يوه دستګاه ورکړه. د جولای په مياشت کي يې په څلورو ښارونو کي د تېلو د ذخيره کولو څلور ټانکونه ور جوړ کړل چې په کابل، مزارشريف، هرات او کيليفت هر يوه کي يوه يوه ذخيره وه څو افغانستان د پاکستان د بلې اقتصادي محاصرې څخه وژغوري. د اګست په مياشت کي يې د هغو افغان کارکوونکو د روزلو لپاره چې د کابل د لارو کوڅو د سړکونو په پخولو کي کار ورڅخه اخيستل کېدی مالي مرسته وکړه. د کورجوړولو او د منابعو د انکشاف په پروژو کي مرستو يې د خلکو په عمومي ژوند کي اسانتيا راوستله. چک هم پنځه ميليونه ډالره پور ورکړ او د سمنټ جوړولو يوه فابريکه يې ورته جوړه کړه او څرنګه چې وارداتي سمينټ ډېر ګران لوېدل نو له دې کبله يې افغانستان ته ډېره ګټه ورسوله. د ختيځ بلاک پروژې د امريکا په ډول ځنډنۍ نه وې بلکه په ډېر لږ وخت کي او په ارزانه بيه سرته رسېدلې، حکومتي مقاماتو ته يې چناني ستونزي نه پېښولې او عمومي خلکو ته يې ډېره ګټه رسېدله.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

داوود خان په شوروي اتحاد، هيڅ وخت، اعتماد ونه کړ مګر د دغو پروژو بريالیتوب او د لوېديځ له خوا د مرستو پرله پسې ردېدلو هغه له شوروي سره د قراردادونو زياتولو او پراخولو ته تشويق کړ. وروسته له هغه چې پاکستان او متحده ايالات د پکټ ملګري سول نو افغانستان ته دوې لارې پاته سوې؛ يا به يې اقتصادي محاصرې او مشکلات، پوځي کمزورې او سياسي ماءيوسي زغملای او يا به يې له شوروي اتحاد سره اړيکي سمولای. داوود خان دوهمه لاره، په دې هيله، انتخاب کړه چې ګوندي د دايمي خطرونو مخه ونيسي. په داسې حال کې چې داوود خان له دې امله وغندل سو چې شوروي پتحاد ته يې په هيواد کې لاره ورکړه او په پوځ کې يې ځانته په لوی لاس ورانکارې قوه جوړه کړه؛ مګر سوال دا دی چې داوود خان کومه بله لاره درلوده کنه؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ